لومړی کچه

# د تورپیکی یادونه

education above all
التعليم فوق الجميع




ليکوال: سنگيتا ويليگر
انځور گر: سرتاک سينها

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



مور یې وپوښتل: تور پیکۍ! د خوب وخت ده، ته چیرته وې؟



تور پیکی وویل: هاغه زمونږ ښوونځي ته دې نږدې لوړه ونه لیدلې ده؟ زه په هغې کې وختم. هغه ډيييره لوړه ده، آن تر آسمانه رسيږي.



کله مې چې ښکته وکتل، غټې وريځې او چې پورته مې وکتل خندا لرونکې پاڼې مې وليدې.



ما دا فکر کاوه، چې پاڼي به نه خاندي!
بیا مې موش خرما ولیدې چې له خندا ډکې په پاڼو کې پټیدې.



غټې موش خرما ماته ډيرې خستکې راکړې چې وې خورم. او وړې
موش خرما زما په ويښتوکې يې لوبې کولې، ښکته او پورته کيده.



مونږ څو ساعته لوبې وکړې. تر څو را په زړه شو چې باید کورته لاړه
شم. خو نه پوهیدم چې څنګه بیرته کوزه شم.



په همدې وخت کې موش خرما د مرستې لپاره غږونه پورته کړل. چې کي! کي! کي! يې کول.




زما له طالعو نه! یوه بانجاني طياره په هوا کې تیریده. ستا باور
راځي چې پیلوټ به د هغوي چیغیدا اوریدلې وي؟



هغه را ښکته شوه، زه يې پورته کړم او کورته يې را وستم.



نو دي همدي لپاره په ما نا وخته شوه، مورې.
مور يې وويل: پورته ختل نور پرېږده، تورپيکۍ!



كي! كي! كي

# لارښودونکې پوښتنې

1. ولې تورپیکۍ د ونې پاڼې د خوښۍ پاڼې بولي؟
۲. ولې تورپیکۍ له ونې را کوزه شوه؟
۳. آیا د تورپیکۍ په شان کومه خاطره لرئ؟ که یې نه لرئ، نو کوم شان خاطرې غواړئ چې وې لرئ؟
۴. آیا باوري یاست چې تورپیکۍ د خپلو یادونو په اړه ریښتینې ده؟ خپلو ځوابونو په اړوند دلیل وواياست.
۵. آیا موش خرما مو لیدلې ده؟ د همدې قیصې پر بنسټ او ستاسو خپلو تجربو ته په کتو، کولای شئ چې د موش خرما عادات بیان کړئ؟